# د مردان او صوابۍ خدائي خدمتګارو ته

# د باچاخان تقریر

# ۲۴ اپریل ۱۹۴۲

ورونو! د کوم عرض او صلاح مشورې دپاره چې زهٔ دلته راغلے یم د هغې غرض کولو نه مخکښې زهٔ تاسو سره یو....داسې خبره کوم چې هغه د وخت سره تعلق لري.

د ټولو نه اول زهٔ وایم چې تاسو کهٔ چرې د دنیا لوړو او مهذبو قومونو ته وګورئ نو دا به درته معلومه شي چې د ترقۍ دپاره د دوه څیزونو ضرورت وي. اولنے قامي مرکز د هر یو قام مرکز شته. د اسلام تاریخ وګورئ چې کله مرکز ؤ نو بې سر و ساماني وه خو چې کله ئې مدینه مرکز کړو نو هله ترقي وشوه.



بل څیز د خلقو د تعلیم دپاره اخبارات تاسو کهٔ ګورئ نو نور قامونه د دنیا د حالاتو په ورځ کښې ځلور ځلور پینځه پینځه ځله خبرېږي. د ریډیوګانو په ذریعه مګر مونږ چې چرته یو نو یو روزانه اخبار هم نهٔ لرو. نن مونږ هم د ترقۍ په لاره د روانېدو کوشش کوو. زمونږ یو هفته وار اخبار ,,پښتون،، دے. خو هغه هم څومره خلق اخلي او څومره ورسره امداد کوي؟ د دې په مقابله کښې د نورو قامونو په زرګونو اخبارونه په ورځ کښې یو ځل نهٔ بلکې دوه او درې ځله چاپ کېږي. ولې چې په قام کښې احساس وي نو هغوي ئې چلوي. اوس به مرکز ته راشو زهٔ دا منم چې مرکز خو زمونږ شته. خو د هغې کار روانېدل نشته. د کوم کار او غرض دپاره چې مونږ مرکز روان کړے دے هغه کار نن معطل دے. زمونږ دا اراده وه چې په دې کښې به د ټولې صوبې د خدائي

خدمتګارو د پوهې او تعليم دپاره يو داسې سکول پرانستے شي چې هغې کښې به هر يو خدائي خدمتګار د خپل تحريک په غرض او مقصد پوهولے شي. او د دې وجې نه مونږ هرې يوې ضلعې ته وئيلي وو چې هغوي به ځان ځان له يو مکان ضرور جوړوي. چې کله د دغې ضلعې خدائي خدمتګار مرکز ته راځي نو په خپل ځائې کښې به ديره کېږي. مګر تراوسه پورې لا يوې ضلعې هم څه جوړ کړي نۀ دي. ولې چې پښتون سره د ډوډو ګډانو او غلطو رسمونو رواجونو دپاره خو ډېر مال وي. او کۀ نۀ وي پتې ورله خرڅوي. په سود اخلي. خو د خدائے په لار کښې چې د ورکولو سوال راشي نو بيا تاسو غريبانان شئ.

زۀ وايم کۀ تاسو ټول د خپلې د يوې ورځې صرف د چائې ډوډۍ خرچ هم ورکړئ نو ستاسو مکان به جوړ شي. خو دې خوا ستاسو فکر نۀ کېږي. خدائے درنه د نيکۍ لارې خطا کړې دي. دا نور اوچت او وړاندې قامونه هم زمونږ په شان دي خو هغوي کښې داسې نيک او پاک خويونه دي. چې د خپل قام او ملک د خدمت دپاره هر قسم قربانۍ ته تيار وي. يو خو د خولې دعوه وي او يو، يو څيز په عمل کښې ښکاره کول دي زۀ دا منم چې جاني قربانۍ کولو ته مونږ کافي خلق داسې پيدا شوې دي چې هغوي خپل آرام اسائش هيڅ ته نۀ دي کتلي او د ملک په لار کښې ئې قربانۍ کړې دي. لېکن يو بله قرباني مالي ده چې کۀ د وطن او ملک په لاره کښې ضرورت وي نو چې هغه سړے خپل مال ورکړي نو دلته کښې زۀ دا تپوس کوم چې ستاسو چرته يو بيت المال شته؟ دا کارونه په کف او چف نۀ کېږي. دې کښې د عمر ضرورت دے. لار او طريقه به درته زۀ ښايم. او عمل کول ستاسو کار دے. کۀ ستاسو دا دعوه رښتونې وي چې تاسو د دې قام خدمتګار يئ نو تاسو له صرف جاني نۀ بلکې مالي قرباني هم کول په کار دي.

بله يوه ډېره ضروري خبره زما مخې له راغلې ده. هغه دا ده لکه څنګه چې قرآن شريف کښې الله تعالى فرمائيلي ,,واخراجاء نصرالله والفتح ورايت الناس يدخلونه فى دين الله افواجا،، يعنې چې برے راشي او يو جماعت پورته شي نو لا تعداده خلق په هغه جماعت کښې رانوځي. نو دا د هغې جماعت فرض وي چې خودغرضه او مطلب اشنا خلق ځان ته پرې نۀ ږدي. دا قاعده ده چې په کوم جماعت مصيبتونه او تکليفونه وي نو قربانۍ دپاره صرف ننګيالي او بې غرضه لنګوالي خلق په کښې وي. خو چې کله فتح وشي نو بې شماره خودغرضه او بې عمله خلق چې په سو کښې ناست وي پکښې رانوځي. نو دغه وخت د ډېر سوچ،فکر او ويرې دے ولې چې کله په يوه ډله کښې خودغرضه او مطلبيان خلق رانوځي او لا داسې خلق رانوځي چې هغوي د تحريک په غرض او مقصد نۀ وي پوهه نو د دغه تحريک د تباهۍ باعث شي.

په دې خبره هم مونږ له زړۀ خفه کول نۀ دي پکار کۀ نن څوک زمونږ مخالفت کوي په دنيا کښې هر يو ډله چې د يو ظالم جابر حکومت او نظام برخلاف پورته شوې ده نو د هغې مقابله هم دغسې خلقو کړې ده. څوک چې نن زمونږه کوي. په دنيا کښې د رسولانو او پيغمبرانو مقابلې شوې دي. تاسو رسول اکرمؐ ته وګورئ د خپل عمر

پـه اولـنـو ورځـو کښې هغه په ټول عرب کښې په آمین مشهور ؤ خو کله چې هغه د خدائے د مخلوق خـدمـت تـه مـلا وتړلـه نـو خـلقو ئې مخالفت هم شـروع کړو. نـن دا د پـاکستـان پـه نوم چې څوک لګیـا دي دا څـوک دي؟ زمونږ دا دومره وړه صوبه ده مـونږ ټـول یـو بـل ښه پیژنو د یو بل پلار نیکۀ پیـژنـو. مـونږ د قـام خـدمتګـار هم پیـژنو او د فیـرنګـي خـدمتګار هم. زۀ دا خبره هر ځائې کوم چې دلتـــه صـرف دوه ډلې دي. یـوه د حق او بلـه د بـاطـل. یـو خـوا فیـرنګـے بـاطل پرست او د هغه مـلګري دي. او بله ډله د خدائي خدمتګارو ده چې د بـاطـل حـکومت د زور، ظلم نه خلق خلاصوي نو مـونږ لـه زړۀ بائیلل نۀ دي پکار. ولې چې دا مونږ سره څه کیږي نو دا همیشه زمونږ نه مخکښې هم پـه دنیا کښې هغه خلقو سره شوي دي چې د دنیا د اصلاح دپاره پورته شوي دي.

خـدائـے تـــه اســره کـول پکـار دي. خپل غـرضـونـه پرېښودل پکار دي. او کۀ څوک د خپل غـرض د سر کولو دپاره مونږ له هم راشي نو هغه د ډېرې ټینګې نۀ وي. رغړي او ضرور به رغړي. نن چې خـلـق د فیرنګي سره زمونږ مقابله کښې ولاړ دي نـو د دوي دا مـوجـوده اقتـدار هـم د فیرنګي د لاسه جوړ دے. او کۀ کله د فیرنګي اقتدار کمیږي نـو دوي بـه هـم ورسـره پرېوځي. دا ملک خلقو په قسـما قسم طریقو خوړلے دے. غریبانان ټول عمر د دې خـلـقـو بـــاغ بــاړئ پـاتې شوي دي. نن چې فیـرنګـي سـره د خـانـانو، ملکانو، پیرانو، ملیانو، باباګانو ډله ولاړه ده او په قسما قسم نخرو او چغو سـره ستاسو خیال بدلوي نو تاسو هم لږې سترګې وغړوئ د ځـان نـه ګډې چیلې مۀ جوړوئ نن کۀ د غـریـب ګټـه نۀ ده شـوې نـو د چا شوې ده؟ د خان مـلک شـوې ده؟ د فیـرنګـي او د هـغـه د نوکرانو وشـوه دا نمبرداری، ملکی چې لږې شوې نو چاته ئې فـائـده ورسېـده. خـان ته کۀ غریب ته؟ تورې بـنـدېـدل د چـا ګټـه ده؟ ټېروار قومي وزارت چې نوبتي څوکۍ بنده کړه نو دا د غریب ګټه وشوه کۀ د خـانـانـو؟ د نوبتي څوکۍ د لاسه په عذاب کښې څـوک پـراته وو؟ دغسې آنریري مجسټریټي چې ئې مـاتې کړې نـو پـه غریب بوجهـ کم شو؟ کۀ په خـان؟ تـاسـو نۀ لیدل چې آنریري مجسټریټانو د غریبانانو وینې څښلې.

تـاسـو ځـان په دې خبره پوهه کړئ چې په هـر یـو انـقـلابـي تـحریک کښې ټول عمر ګټه د غـریب قام وي. مخکښې مرضي ستاسو خپله ده. کۀ مـــا سـره مـلګـري شئ نو څـه بـه راکړئ. څـه خیرات شکرانه خو در نه نۀ غواړم او کۀ راسره مو مـلا ونۀ تړلـه نو مانه به څه واخلئ ستاسو کارونه بـه نیمګړي پاتې شي زۀ خو به خپل فرض ادا کوم او هم په دغه پړ یم.

تاسو د ټولې صوبې خدائي خدمتګارو په شـریـکـه دا فیـصـلـه کړې وه چې مونږ به د خپلې آمـدنۍ شـلـمـه حصه مرکز ته ورکوو خو تراوسه پـورې لا یـو تـن هـم نۀ دے راغـلے چې هغه خپله حـصـه بیت المال ته رسولې وي. نو زۀ به د سالار صـاحـب په خدمت کښې عرض وکړم چې هغوي د دې غـرض دپـاره یـو کـمیټي جوړه کړي چې هغه کلي په کلي وګرځي او د دې د راجمع کولو مناسب انتـظـام وکړي. دا یـوه ډېره اهمه او ضروري خبره ده. امیـد دے چې تاسو ټول خدائي خدمتګار به په دې غور وکړئ.